مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۱۰/۲۹

# نه يې شړلی شمه

## نه يې زغملی شمه



د ځنګله منځ کې يو تور واټ

لکه يو تور ښامار چې اوږد وي روان

داسي اوږد وير د افغان

چې د پای ټکی يې مالوم هم نه دی

ښامار به لاړ شي، يا به مر يا به پناه شي چيرې

د افغان وير به څه کړم

چې دا ځلوينت کاله مې زړه باندې بار

او دا ځلوينت پيرۍ مې روح باندې پروت

نه يې شړلی شمه

نه يې زغملی شمه

۲۰۱۸/۰۸/۲۱
هيدرسليف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیرلو مخکې په ځير و لولئ